(c) ketabton.com: The Digital Library



بابا زه څکه له ادې سره پرې ېښې وم چې زۀ پرتې وم۔ دوی وای چې
"کله کاکا تۀ له مور کې، څخه ورې نو هغې د ېرې چيغې وهلې.د خدای رويونه يې ورته گرزول".
د هغو چيغو باوجود هم کاکا ظالم له ادې څخه جدا کړی وم بيا د نجمې مور ما او نجمې دواړو ته خپلې شيدې راکولې۔دغه رنگه زۀ او نجمه په يوه غېږه او يو ځای کښې سره لويان شوي يو۔اوس خوښه ستا سو ده نجمه زما خور که ترله بولی؟".
**بريالی**: "ښۀ ستا بابا خو کمال کړی دی۔دا سې خلگ خو د ېر کم پېدا کېږي".
دروازه خلاصه شوه،نرسه راغله،زما او د ليوني کيسه يې بيا سره راپرې کړه.
**لېونی**: "مرې که يې وژنې !بيا راغله.لچې ملايې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ پر خاندو، ستا پرېږه دا خو يو دی نه دی خو پلاني او پلاني هم غلا کړې ده. يو د بل سره په نفاق کښې يو د بل په بې عزتي پسې يو.

ملايان مو هم د دين په روح نه پوهوي. دوی په دا نۀ پوهېږي چې خلگ څنگه پوه کړي که څۀ هم د دوی مقصد دا دی چې يو د بل دروازې مۀ ټکوئ. يو د بل عزت مۀ اخلئ. زۀ خو وايم هغه ټولنې که له مذهبه لرې شوي،د ساٸنس د ترقۍ لارې خو يې خپلې کړې دي. ساٸنس خو يې د ژوند لاروي وکړه. موږ خو نه د دين شو نه د دنيا شو.

دا مو هم زړۀ نه مني چې زما خور، لور او ورېندار دې نه بې عزته کېږي او د بل له لوره،خوره او ورېندارې دې هم نه را گرځو.

ستا څۀ خيال دی دا د تورو شپو په دراوۍ کښې به بيا زموږ وبچيانو ته خور او ورور درک ورکړي؟".

**لېونی جانان**: ولاړ شو څپلۍ يې په پښو کړې.

"مرې که يې وژنې! د دې يوۀ سوال ځواب لا راکړه. دا ملايانو چې د سکول مخالفت کولی. اوس څۀ وشو چې په خپله يې سکولونه خلاص کړو. د جمعې په ورځ پر ممبر ناست وي و خلگو ته وايي خپل ماشومان راولئ په سکول کښې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



○
(12)

**لېونۍ**: "مرې که یې وژنې! یو خو دغه ترسه لېونۍ زمونږ گرده کیسه راگډه وډه کړي. ښه نو ما ویل چې د وادۀ څخه راغبرگ شوو نو لېونۍ تر مونږ مخکې چابک چابک روان وو. دا سې ورک شو لکه تا چې نۀ دی لیدلی بیا مونږ هم نۀ دی لیدلی.

پوره نولس ورځې لېونی نه وو. مونږ به موڅي ماما ته راغلو د لېوني پې دیده به بېرته رخصت شو. موڅي ماما به یو څۀ د لېوني څۀ به یې خپلې خبرې په گډې کړې. دا سې کیسې به یې کولې چې سړي ښخې یقین نه شو په کولای.

مثال لکه دا کیسه

"زۀ یوه ورځ له دوبۍ څخه په جهاز کښتي را روان وم. دا زما اول وار وو چې په جهاز کښتي مې سفر کاوو. ښایستو ښایستو نجونو په جهاز کښتي خذمت کاوو. یوې وماته ببخي د ېر خوند را کړی. وار به نه وو ما به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیــرخــانــه امېل واخــه
بــازدنــه یــوړی ترتــاکه
پښې دمــاتې سه بــوراکه
د نیلي کــولــمې د پـرې کې
بــازه لانــدې رســالې کې
بازېې مـرکې جــنو کښېنه
ملخی مــه وره دروازې لــه

میمې تــول کــه خپل هلکان
دویم کاړتوس ورکی شیرجان
تــرېې کی د ړوب تــرمــیان
د مچ پانسی لــه ورې شیرجان
د شــیرجــان د پــانسی نــاره
خــواره ســـوې زرېــنې زاړه
مــامــه جــانــه نــه راځې
یاغې ځنګل مامتې ســوې
د نـــواب پــر څنګ بــه تلې
ډنګــره نیم سنزرخــېل وې
شـــین مــوتــر په رود به تلی
شــهزاده غـــرونــرېــدی
ړوب لــه رالــه پــرنــامــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروړ ته مې رخصت ورکړی، زۀ د لېوني څنګ ته ورغلم ورسره کښېنستم. په خپل دوسمال مې اوښکې ور پاکولې. دۀ مې لاس ونيو، په اشاره يې منع کړم زما پر لاس يې خپل دواړه لاسونه وګرځول ـ ښۀ تر ډېره پورې يې وژړل بيا را کښېنسته شو. په چپه خولۀ سره يې روغاني له چاى سره وخوړې.

ما يې هم خاموشي نۀ ماتوله چې له چاى څخه فارغه شو، ماته يې په خېر خېر کتل. يو دم يې وخندل.

"مرې که يې وژنې! نن کيسه نۀ غواړې؟".

ما ورته وخندل.

"ولې نۀ".

**لېونى**: "مرې که يې وژنې! وروړکه! يو ورځ زه، صالو او لېونى جانان د موڅي ماما تړې ته ورغلو ـ هغه ماسټر (کوم چې شاعر وو) موږ چې کورته ورغلي وو. هغه کيسه دې په ياد ده؟".

**زۀ**: "هو ولې نۀ؟. ټکي په ټکي مې ياده ده".

**لېونى**: "مرې که يې وژنې! بيا خو نو ډېر د کار سړى يې نو چې د موڅي ماما تړې ته ورغلو

